سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰٦/۱۵

# چی دا ښکلا څه شی دی؟

ښکلا په څه اندازه کیږی، زه پری نه پوهیږم؟

ایا په کانو تلل کیږی، زه پری نه پوهیږم؟

ښکلا به وزن وی، که طول به وی، که حجم به وی

چی کوم واحد ورته کاریږی، زه پری نه پوهیږم؟

د ښکلا رنگ به څه وی، سپین که، تور، که بل ډول؟

په کومه بڼه جَوَتیږی، زه پری نه پوهیږم؟

څوک یی په غرونو، ګړنګونو څوک درو کی ګوری

څوک پسی دښتو کی ګرزیږی، زه پری نه پوهیږم

څوک یی څپود سمندرکی، څوک ساحل کی وینی

ښکلا به کوم ځای کی اوسیږی، زه پری نه پوهیږم

څوک یی د یارسترګو کی وینی، څوک د ګل پانو کی

چاته په زر- زور کی ښکاریږی، زه پری نه پوهیږم

یو یی د باز پنجوکی ګوری، بل آهو سترګو کی

چیرته ده څوک په دی پوهیږی، زه پری نه پوهیږم؟



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

شاید ښکلا به هر نظر کی وی، ځانګړی مفهوم

داسی چی رنګ رنګ ځرګندیږی، زه پری نه پوهیږم

یواځی دومره یم پوه شوی، چی ښکلا ښکلا ده

زړه ورته هر یو هوسیږی، په دی ښه پوهیږم

ګران کلیواله! دومره پوه شه، چی دنیا ښکلی ده

په مینه لا هم ښکلی کیږی، دو مره زه پوهیږم

** * **

جون ۲۰۱۹ – تورنتو کانادا

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

چه دا ښکلا څه شی دی؟

kliwal_s_٤٥_tshe_daa_shokolaa_tshe_shay_day.pdf